# د تعصب جرم ته د پولیسو غبرګون بنودلو توقعات

کله چې د تعصب جرم په اړه راپور ورکوئ د پولیسو سره راکړه ورکړه په اړه د پوهې له مخې پریکړو کولو لپاره تاسې په څه شي پوهیدو ته اړتیا لرئ.

Oregon Department of Justice's
CIVIL RIGHTS UNIT

# پولیس

موږ پدې سند کې د "پولیس" ټکی کاروو.

زموږ مطلب د یوې ادارې په سطح کې د قانون ټول تنفیذ کونکي، پشمول د پولیسو قوماندانان او د هغوی افسران، شیرف او د هغوی معاونان، سرتیري، او د کمپس د خوندیتوب هغه افسران چې لوړه یې کړي وي. دا خلک لوړه کړي افسران دي (ملکیان ندي) څوک چې د قصبې/ښار ښاروالۍ)

# د اوریګون قانون وایی پولیس دا بنسټیز مکلفیتونه لري

- OR Const, Art I § 42 (1) : د قرباني سره د **درناوي او احترام ډک چلند کول**
- د OACP د اخلاقیاتو کوډ: بنسټیزه دنده یې **ټولنې ته خدمت کول دي**
- OSSA: د ټولنې **د خوندیتوب ښه کول**
- د OSP ماموریت: د اوریګون ایالت ته د متنوع کاري ځواک سره خدمت کول **چې د خلکو، املاکو** او د طبیعي سرچینو محافظت لپاره ګومارل شوی دی.
- د ORS 181A.080 **لاندې**: ځواکونه او دندې:
  - **د ټولو جرمي قوانینو حاکمیت**
  - **د جرم مخنیوی**
- ORS 147.380: پولیس **باید د تعصب پیښنو** قربانیان ورځایی قربانیانو خدمتونو یا هاټلاین ته راجع کړي

# د اوریګون قانون وایی پولیس باید:

- د ټولنې غړو سره د درناوي او احترام نه ډک چلند وکړي.
- ستاسې د لاسرسي وړتیا اړتیاوې پوره کړي، کله یې چې غوښتنه وکړئ.
- تاسې سره د ارتباط لپاره ژباړونکی ولري، کله یې چې وغواړئ ( د 1964 کال د CRA عنوان VI، د ADA عنوان III).
  - د قرباني یا شاهد د کورنۍ غړی د ژباړونکي په توګه ونه کاروي.
- له تاسې ستاسې د تابعیت، ملي اصل، یا د مهاجرت وضعیت په اړه پوښتنه ونکړي، غیرلدې که دا د جرم په اړه د هغوی د پلټنو لازمي برخه وي (ORS 181A.823).
- که تاسې 15کلن یې یا ډیر عمر لرئ، تاسې ته اجازه درکړي داسې یو فرد په مرکو کې ستاسې ملتیا وکړي چې شاهد نه وي او 18 کلن وي یا ډیر عمر ولري (ORS 147.425).
- د جرمونو پلټنه وکړي.
- جرمي قوانین پلي کړي.
- د خپلو پلټنو د دریځ په اړه واضح او روښانه وي، تر هغه پورې چې د هغوی پلټنه د خطر سره نه مخ کوي.
- د جرم قربانیانو ته د هغوی د حقونو په اړه ووایی (OR Const, Art I § 42 (1) او ORS 147.417).

# پولیس باید د تعصب جرم پلټنه وکړي

- تاسې اړ نه یې خپله قضیه ثابت کړئ.
- تاسې اړ نه یې مشکوک فرد ولرئ.
- پولیس باید د دې مواردو پلټنه وکړي څوک، څه، کله، چیرې، ولې، او څنګه.
- پولیس به له تاسې او د نورو څخه پوښتنې وکړي.

# د پولیسو پلټنو کې باید شامل وي

- د زیان تایید چې تاسي تجربه کړی
  - دا ډول ټکي لکه "زه ډېر خواشینی یم چې تاسي سره داسې شوي. دا سمه نده." مهم دي
- د قرباني (قربانیانو)، شاهد (شاهدانو)، او د مرتکب (مرتکبینو) د طبي اړتیاو پوره کول
- د شواهدو خوندي کول او ساتل، پشمول د:
  - فزیکي شواهدو راټولول
  - د شواهدو عکاسي کول
  - د جرمونو لابرتوار کې د ارزونې لپاره د شواهدو لیږل
- د ټولو اړخونو څخه د بیان اخیستل
- د ګاونډ راچاپیرول
  - د نورو شواهدو لټون کول (کیمرې، نښې، نږدې نښې او علایم، غورځیدلي توکي؟)
  - د نورو شاهدانو سره مرکې کول (دا شاهدان ممکن د سترګو لیدلی حال ولري، اوریدلي یې وي، یا هم ممکن اړوند تاریخي معلومات ولري)
- د مظنون نیول یا د جلب لیږل، که چیرې پولیس د یوه جرم ثابتولو لپاره احتمالي عامل ولري
- قرباني ته د مظنون د نیول کیدو یا جلب لیږل کیدو په اړه خبر ورکول، او دا چې نور د څه تمه وکړي
- د پولیسو راپور لیکل، پشمول د دقیق تعصبي انګیزې ادبیاتو (په حکایتونو کې) یا شرح شوی چلند
  - د پولیسو راپور کې باید عمومیات شامل نه وي لکه "باب بیا د ماریا توهین کولو لپاره **نژادي سپکاوی وکاراو."**
- د جرم قربانیانو ته د هغوی د جرم قرباني حقونو په اړه ویل

# د تعصب انګیزې په اړه پوښتنې

- پولیس به له تاسې پوښتنه وکړي چې آیا تاسې باور لرئ چې د جرم انګیزه تعصب و.
- پولیس به له تاسې پوښتنه وکړي چې آیا تاسې د تعصب انګیزې کوم شواهد لرئ.
- پولیس به له تاسې د ځانګړي کارول شوې ژبې یا ادبیاتو په اړه پوښتنه وکړي، پشمول د سپکاوي ټکو.
  - دا ستاسې د توهینولو یا زیانمن کولو لپاره ندي، بلکه د ځانګړي جرم ثابتولو لپاره د لازمي شواهدو راټولول دي.
- پولیس ممکن له تاسې پوښتنه وکړي چې یو ځانګړی ټکی – لکه توهین – څه معنې ده.
  - دا ممکن د دې لپاره نه وي چې هغوی د دغه ټکي په معنې نه پوهیږي، بلکه د ممکن تعصب انګیزې ثابتولو لپاره دا لازمي دي.

# واقعيی يا ګڼل کيدونکی محافظت شوې طبقه؟

- اړتيا نشته د مرتکب د تعصب انګيزه ستاسې هويت سره سمون وکړي.
- د اوريګون قانون د "ګڼل کيدونکي" محافظت شوي طبقې ثبوت غواړي، د واقعيی محافظت شوي طبقې نه.
- د مثال په توګه، يو فرد کولی شي په يوه قرباني يرغل وکړي او هغه ته د تور پوستي/افريقايی امريکايی ضد سپکاوي ټکي وکاروي. که چيرې قرباني د هوايی بومي اوسيدونکي په توګه وپيژندل شي نو بيا هم د نژاد پربنسټ د تعصب جرم تور پورې کيدی شي.

# د محافظت شوي طبقې معلومات

پولیس به له تاسې ستاسې د محافظت شوي طبقې معلوماتو په اړه پوښتنه وکړي.

پدې کې شامل دي ستاسې:

- جنسي لیدلوری
- معیوبیت
- ملي اصل*
- نژاد
- د جندر شناخت
- رنګ
- دین

*پولیس نشي کولی له تاسې ستاسې د تابعیت، ملي اصل، یا مهاجرت وضعیت په اړه پوښتنه وکړي، غیرلدې که د ایالت یا ځایی جرم اړوند د هغوی د پلټنې لپاره اړین وي (ORS 181A.823).

# پولیس اړ ندي د
# تعصب پیښې **پلټنه وکړي**

- د اوریګون سپارښتنه کوي چې پولیس د ټولو تعصبي جرمونو او تعصب پیښو پلټنه وکړي او د پولیسو راپور کې یې مستند کړي.
  - د تعصب پیښې **غیر جرمي** تعصبي انګیزې ټکي یا چلند دی چې هدف یې یو فرد د نومورړي د ګټل کیدونکي محافظت شوي طبقې پربنسټ وي.
- په هرصورت، پولیس اړ ن**دي** د تعصب پیښې وپلټي یا مستند کړي.
- پولیس باید د تعصب پیښو قربانیان وړ ځایی قربانیانو خدمتونو یا د تعصب غبرګون هاټلاین ته راجع کړي (ORS 147.380).

# پولیس نشي کولی ستاسي معلومات د ICE سره شریک کړي

- غیر لدې چې د یوه قاضي لخوا لاسلیک شوي امر سره په مطابقت کې وي، یا د هغه معلوماتو شریکول چې واردمخه په عامه ډول چوپړ کې وي، پولیس نشي کولی ستاسې ملي اصل، تابعیت، یا د مهاجرت وضعیت معلومات د فدرال د مهاجرت قانون پلي کولو موخو لپاره د فدرال د مهاجرت کومې ادارې سره شریک کړي (ORS 181A.823).

غواړئ پوهه شئ د مدني حقونو واحد څه کار کوي؟ موږ په ټولنیزو رسنیو کې تعقیب کړئ!

Oregon Department of Justice's
CIVIL RIGHTS UNIT